عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۳/۲۴

# وهابيان څوک دي؟

## يوولسمه برخه

وهابيانو په افغانستان کي چنداني د پښي د ايښودلو او نفوذ پيدا کولو فرصت پيدا نه کړ او که يي د جهاد په کلونو کي څه جبهي او قوماندان پيدا کړي وي نو هغه هم د سعودي عربستان د پيسو برکت وو. د وهابي عقايدو د نفوذ لپاره ځکه زمينه نه برابريدله چي هغوی د خلکو د سوونو کلونو عنعنوي عقايدو او خُرافاتو سره مخالف ول. هغوی زيارتونو ته تلل او له زيارتونو څخه مراد غوښتل شرک بلل او خلکو زيارتونو ته د کعبي په څېر عقيده درلوده او په مقابل کي يي وهابيان مشرکين بلل.

د کندهار خلکو خو د وهابيانو په مقابل کي دومره تعصب درلود چي د عبدالخالق اخند زاده په نوم يو منور او محدث ملا، چي له پخوا څخه په وهابي مشهور وو، مجاهدينو د نور محمدتره کي په وخت کي، په داسي حال کي وويشتي او وواژه چي عمر به يي ښايي ۸۵ کلونو ته رسيدی؛ دونه رنځور او کمزوری او پر ملا باندي دونه کړوپ وو چي چنداني يي پورته کتلای نه سوای.

د کنړ په ولايت کي د حسين مولوي په نوم يوه سړي ژوند کاوه چي په پنجپيري او وهابی مشهور وو. پنجپيری يي ځکه باله چي د خيبر پښتونخوا د صوابی په علاقه کي د پنجپير د ښارګوټي له مدرسي څخه، چي د سعودي عربستان په مرسته چليږي او د وهابی عقايدو لپاره تبليغ کوي، فارغ سوی وو. د پنجپيرانو په مدرسو کي تر ټولو مهمه د دارالقرآن مدرسه ده چي مولنامحمدطاهر په ۱۹۳۹ کال کي تاءسيس کړه او اوس يي د هغه زوی مولنامحمدطيب مشرتوب پرغاړه لري او اوس حاضر د کراچي په ښار کي شاوخوا ۲۰ مدرسي پوري مربوطي دي. ويل کيږي چي د پنجپير مدرسي د جهاد تبليغ کوي او د تحريک طالبان پاکستان او د خراسان د ولايت د اسلامي دولت له تونددروانو سره ارتباط لري.

حسين مولوي وروسته خپل نوم ځکه تبديل کړ چي د وهابي عقايدو سره سم نه وو او ځان يي جميل الرحمن وباله. په دغه ترتيب عبدالرسول سياف هم خپل نوم بدل کړ او پر ځان باندي يي عبدالرب رسول سياف نوم کښېښود؛ ځکه چي سعودي عربستان ښايي په پخواني نامه دومره نازولی نه وای. د کنړ د ولايت اوسېدونکي، د افغانستان د نورو ولاياتو په څېر، عنعنوي مسلمانان دي او د نورو افغانانو په څېر زيارتونو، پيرانو او تعويذاتو ته تينګه عقيده لري. په هغه ولايت کي د حسين مولوي د يو څه نفوذ کولو حتی ژوندي پاته کېدلو يو علت دا وو چي هغه د کنړ يوې غښتلي او لويی قبيلي ساپيو ته منسوب وو.

جميل الرحمن له افغانستان څخه د شوروي د قواوو له وتلو وروسته په ۱۹۹۰ کال کي د کنړ ولايت په مرکز اسعد آباد کي مستقل اسلامي امارت اعلان کړ. د سعودی عربستان پاچا ملک فهد او مفتی اعظم شيخ عبدالعزيز بن باز له هغه سره په پراخه پيمانه مرستي پيل کړي. د سعودي عربستان جوماتونو او د هغه هيواد د کاروبار ښتنانو د جميل الرحمن ۵۰۰۰ کسيز پوځ ته په ميليونو ډالرونه ولېږل. د سعودي عربستان ملايان او د جهاد لپاره عرب ځوانان ورته راغلل او په لږ وخت کي يي ډېر زيات قدرت ترلاسه کړ؛ او خپل اِمارت ته يي د جمعيت الدعوة قرآن والسنة نوم ورکړ.

جميل الرحمن د شوروي په مقابل کي د جنګونو په وخت کي د يوه زړه ور جنګيالي په نوم شهرت ترلاسه کړی وو او کله چي شوروي پوځونه له افغانستان څخه ووتل نو د کنړ مجاهدينو او خلکو هغه د کنړ د والي په حيث انتخاب کړ. خو د هغه د قدرت له زياتېدلو او مستقل کېدلو سره حکمتيار، خالص او د افغانستان اسلامی حکومت AIG مخالفت پيل کړ او د کنړ لپاره يي خپل ګورنر وټاکی. څرنګه چي جميل الرحمن له سعودي عربستان څخه زياتي پيسي او مرستي ترلاسه کولي؛ دې خبري سياف، چي هغه هم له سعودي عربستان څخه مرستي اخيستلي، ځکه په غوسه کړ چي هسي نه د هغه هيواد ميليونونه ډالر يوازي جميل الرحمن ته ولاړ نه سي. په پېښور کي د عربو د اخوان المسلين ډلي او ايمن ظواهري له هغه څخه نفرت درلود او د هغه لپاره تر ټولو بده دا وه چي آيس ايس آی I.S.I ورځ په ورځ د هغه د قدرت د سيمي د پراخېدلو څخه انديښنه ښودله. له ده سره مخالفتونه هغه وخت زيات سول چي د ۱۹۹۱ کال د جنوري په مياشت کي يي اعلان وکړ چي د ده اِمارت يو مستقل هيواد دی.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

د مجاهدينو لپاره د متحده ايالاتو خاص استازی پيټر ټامسن ليکي: « د ۱۹۹۰ کال د ډسمبر په مياشت کي جميل الرحمن زما د دوو مخو ليک په جواب کي چي ده ته مي ليږلی او ورڅخه غوښتي مي وه چي د متحده ايالاتو د مرستی د موسسي هغه دوولس لاری موټرونه خوشي کړي چي د کنړ کليو ته غنم رسوي راته وليکل چي غنم زما په ګودامونو کي د امانت په توګه پراته او ساتلي دي. رحمن وروسته ليکلي وه چي د کنړ ولايت ټول د ده په کنټرول کي دی او په وروستيو شپو ورځو کي يي په ننګر هار کي له يوې ناحيي څخه د نجيب قواوي ايستلي او د لغمان د ولايت يوه سيمه يي هم لاندي کړې ده. که متحده ايالات له هغو کليو سره، چي د ده په امارت کي شامل دي، مرسته کوي نو بايد چي مستقيماً د ده د حکومت له لاري توزيع سي. څرنګه چي موږ د ده د اسلامي امارت خپلواکي په رسميت نه سوای پيژندلای او د متحده ايالاتو د مرستو رسولو موسسي چي د جميل الرحمن سرټمبه ګی ته وکتل نو د هغه تر کنټرول لاندي کليو ته يي د مرستو لېږل بند کړل» Tomson PP 386-87
د جميل الرحمن اسلامي اِمارت په نړۍ کي دوهم تر ټولو پراخ اسلامي دولت وو. د سعودي عربستان په ټلويزيونونو کي د هغه عسکر ښودل کېدل، د هغه په امارت کي د سعودي عربستان له خوا د نويو جوړو سويو جوماتونو تصويرونه ښودل کېدل. د هغه سرحدي پوليسو يوازي هغو نارينه وو ته چي ږيري يي درلودې او هغو ښځو ته چي له سره ترنوکه به پوښلي وې، امارت ته، د داخلېدلو اجازه ورکوله. د هغه امنيتی قواوو، د خپل قلمرو په داخل کي، د اولياوو قبرونه وران کړل. جميل الرحمن د بين المللی سره صليب څخه وغوښتل چي خپل د سره صليب نښان ليري کړي؛ خو کله چي يي هغوی غوښتنه ونه منله نو ده احترامانه غوښتنه ورڅخه وکړه چي د هغوی مرستو ته اړتيا نه لري او خپل دفترونه دي وتړي. جميل الرحمن د سعودي عربستان په مرستو زړه تړلی وو. هغه خپل جغرافيايي موقعيت ته متوجه نه وو. هغه له هري خوا د دښمنو قواوو په منځ کي پروت وو او هغوی هر وخت کولای سوای چي له منځه يي يوسي. سياف، که څه هم چي وهابي وو او، د مجاهدينو په ډلو کي، د سعودي عربستان نازولی وو، خو هغه ځکه د ده تر ټولو خطرناک دښمن وو چي سعودي عربستان خپله توجه د جميل الرحمن خواته اړولي او ډيري هغه پيسي او مرستي چي بايد سياف ته يي ليږلي وای جميل الرحمن ته يي ورکولي او داسي مدرسي يي ورته جوړي کړی چي د سياف د الدعوة و الجهاد د پوهنتون ځيني استادان د جميل الرحمن مدرسو ته، چي ښې مرستي يي ترلاسه کولي، ولاړل.
بالاخره جميل الرحمن د حکمتيار او نورو مجاهدينو د ډلو سره څرګنده دښمني را واخيسته. د هغوی د وسلو او مهماتو کاروانونه يي را وګرځول او وسلي يي ضبط کړې او خوراکي موادو ته يي هم په خپل قلمرو کي د تېرېدلو اجازه ورنه کړه او ضبط يي کړل.
د جميل الرحمن خپل سريو او د آی ايس آی او پاکستان سره له ټولو مجاهدينو سره د هغه بد سلوک له پاکستاني جنرالانو سره اندېښنه پيدا کړه. د ۱۹۹۱ کال د جولای په مياشت کي د حکمتيار قواوو، د ناوه پاس او ننګرهار له لاري، د جميل الرحمن پر قواوو باندي يرغل پيل کړ. جنګ ډېر سخت وو او دواړو خواوو ته درانه تلفات ورسېدل. جميل الرحمن د اوربند او منځګړتوب غوښتنه وکړه. حکمتيار د هغه غوښتنه ونه منله. خو په نتيجه کي حکمتيار، په دواړو جبهو کي، ماته وخوړه او اوربند يي ومانه؛ خو دا د هغه يو چال وو.
زيات و کم يوه مياشت وروسته، د ۱۹۹۱ کال د اګسټ پر ۲۷ د آی ايس آی پوځي قواوو او د حکمتيار مجاهدينو بله حمله پيل کړه. د جميل الرحمن قواوو د پاکستان د درنو ماشين ګنو او عصري وسلو، توپخاني او پوځيانو په مقابل کي، چي ځانونه يي د مجاهدينو په ډول جوړ کړي ول، مقاومت نه سوای کولای او پاکستاني قواوي او د حکمتيار مجاهدين د ناوه پاس له لاري د کنړ په ولايت ننوتل او اسعد آباد ته ورسېدل. دوې ورځي وروسته، د اګست پر نهه ويشتمه جميل الرحمن باجوړ ته وتښتېدی او د اګست پر دېرشمه، د جمعي د لمانځه پر مهال، يوه مصري عرب، چي د قرآن شريف په پوښ کي يي تومانچه ورسره اخيستي وه، جميل الرحمن، چي پر لمانځه ولاړ وو، وويشت او وواژه. د محل خلکو ليدلي وه چي د حزب اسلامي دريو تنو په يوه موټر کي د پيښي انتظار ايستی او د ډزو له اورېدلو سره سم يي حرکت وکړ. Ibid, PP 387-89
د جهاد له لومړيو شپو ورځو څخه د سعودي عربستان حکومت او د هغه هيواد شته منو کسانو او موسسو په مياشت کي له ۲۰ څخه تر ۲۵ ميليونو دالرو پوري نغدي پيسې، وسلي او بشري مرستی مجاهدينو ته لېږلي. دا مرستي مستقيماً جمهورريس ضياءالحق او د آی ايس آی جنرالانو ته ورکول کېدلي او وروسته به مجاهدينو ته رسېدلي. ان له هغه لومړيو ورځو څخه، د پاکستان آی ای آس، په مجاهدينو پوري مربوط ټول فعاليتونه څارل او سي آی ای ته يي اجازه نه ورکوله چي له مجاهدينو او عربانو سره مستقيم ارتباط ونيسی. حتی د سعودي عربستان د استخباراتو عمومي ريس عبدالله المحسن الترکی ته په دې برخه کي يو څه آزادي ورکړه سوې وه خو هغه هم مجبوروو چي خپل فعاليتونه د جنرال ضياء له ستراتيژی سره برابر کړي.
عبدالله عزام:
عبدالله يوسف عزام په ۱۹۴۱ کال کي په فسطين کي زېږېدلی او يو سُنی سلفي مسلمان او عالم وو. عزام په لومړۍ ځواني کي د اخوان السملين غړی سو او په لږ وخت کي يي د خپل استاد شفيق اسد عبدالهادي پر لاس د اخوان المسلمين له مشرانو سره وپيژندل. عزام، د تحصيلاتو تر بشپړولو وروسته، يو څه وخت د فلسطين د خپلواکی د موسسي P L O غړی وو او په جنګي عملياتو او حملو کي يي برخه واخيستله خو څرنګه چي د هغی جبهي له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

چيې پروګرامونو سره موافق نه وونو مصر ته ولاړ او د الزهر په مدرسه کې يې تحصيل پيل کړ. له هغه پوهنتون څخه يې په ۱۹۷۳ کال کې د اسلامي فقهې په اصولو کې ډاکټري ترلاسه کړه .
عزام له لومړۍ ځوانۍ څخه توندرو عقايد درلودل. عزام په دې عقيده وو چې اسلامي نړۍ د دښمنانو له خوا محاصره سوې او هغوی دې ته تيار دي چې هر وخت يې وس کار وکړي هغه په خپلو منځونو کې سره ووېشي او د اسلام عظمت ختم کړي. عزام ويل چې د اسلام لپاره تبليغ او د هغه د عظمت لپاره مبارزه د تدريجي ګامونو په وسيله نه کيږي. اسلام بايد يا خپلو ظالمو او بې دينه دښمنانو ته د توري په زور خپل قدرت وښيي او يا به د تاريخ کندې ته لويږي. عزام اعلان وکړ چې د هغه نوې شخصي فلسفه جهاد او توپک دی. نور د مذاکراتو. کنفرانسونو او خبرو اترو وخت نه دی او نه کار ورکوي. Kohlmann, Al-Qaida’s Jihad in Europe P6
عزام وروسته سعودی عربستان ته ولاړ او په جده کې يې د ملک عبدالعزيز په پوهنتون کې تدريس پيل کړ. هغه پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل په وخت کې په سعودي عربستان کې د ديني علومو په تدريس لګيا وو؛ او اسامه بن لادن يې، چې د ده شاګرد وو، تشويق کړ چې د افغانستان په جهاد کې برخه واخلي. دواړو ، په پېښور کې، د مکتب الخدمات په نوم يو مرکز جوړکړ او د افغان مجاهدينو او مهاجرينو لپاره يې د مرستو په راټولولو بناء وکړه.
د عربي هيوادونو څخه د مرستو تر څنګ، عرب ځوانان، چې له لس ګونو کلونو راهيسې يې د جهاد تبليغات اورېدلي وه، د پاکستان پر لور رامات سول. بن لادن، د خپلې ښې شته منۍ څخه په استفاده، د دغو ځوانانو لپاره د اوسېدلو کورونه او د پوځي روزني مرکزونه جوړول. په لومړي سر کې د افغانستان د مجاهدينو قوماندانانو د هغوی ډېر تود هرکلی کاوه خو کله چې هغوی، له مجاهدينو سره، د افغانستان خاوري ته دننه ولاړل او هلته يې د زيارتونو پر ضد تبليغات پيل کړل او ځيني زيارتونه يې ونړول نو له مجاهدينو سره يې سخت اختلاف راغی. مجاهدينو به خپل شهيدان په عادي قبرونو کې ښخول او زرغونه بيرغونه يې وربانديې درول؛ خو عربو ځوانانو هغوی دې ته کار ته هم نه پرېښودل او بيرغونه به يې څيرل. ځکه چې دوی د زيارتونو له وجود سره مخالف ول او هر ډول زيارت جوړول او زيارت ته تلل يې د شرک او کفر اعمال بلل. پر دې مسله باندې، د مجاهدينو او عربانو ترمنځ، څو ځله نښتې وسوې او څو تنه عربان ووژل سول. مجاهدينو هغوی ته وهابيان ويل او ليري ورڅخه ګرځېدل. Coll, P152
د افغان مجاهدينو او عربانو تر منځ مذهبي تاوتريخوالی هم موجود وو. افغان مجاهدينو، چې ټول حنفي مذهبه ول، نه غوښتل چې د عربو جنګياليو پر وهابي طريقه لمونځونه وکړي او په کندهار کې خو د مجاهدينو يوې شورا د وهابيانو د کفر فتوا ورکړه. عبدالله عزام خپلو عربو مجاهدينو ته وويل چې که تاسي غواړی د افغانانو په زړونو کې ځای ونيسی نو بايد چې د هغوی حنفی مذهب ته سپکاوی ونه کړی. تاسي نه سی کولای چې هم د هغوی د جهاد طريقه او هم د فکر کولو طرز په يوه ځل بدل کړی. Thomson, PP 378-79
څرنګه چې عربان له ډېرو زياتو پيسو سره راغلي ول او د جهاد د لومړيو کلونو زياتره لګښتونه د هغوی پر غاړه وه نو مجاهدين هم مجبور ول چې د هغوی خيال وساتي. د افغانستان لپاره د آی ايس آی د څانګې رييس جنرال محمديوسف وايی که د عربو مرستي، چې په مياشت کې له ۲۰ څخه تر ۲۵ ميليونه ډالرو پوري رسېدلې، نه وای نو د جهاد لپاره به ډېر لږ مالی منابع موجود وای.
د عربو دغه مالي مرستي له آی ايس آی او د عبدالله عزام د خدماتو له دفتر سره تنظيمېدلې او د عربستان د استخباراتو د عمومي اداري د رييس ترکي الفيصل د دفتر رييس له سعودي عربستان څخه شخصاً جنرال ضياء او آی ايس آی ته سپارلې.
د ۱۹۸۰ په لسيزه کې ټولو عربانو، چې د افغانستان په جهاد کې يې برخه اخيستله، خپل مذهبي او سياسي اختلافات پرې ايښي وه او په يوه اتفاق جنګېدل. عبدالله عزام، چې په اسلامي نړۍ کې د افغان جهاد په پلار مشهور دی، د هغوی ترمنځ دغه اتفاق تشويقاوه او د افغانستان جهاد يې د خدای تحفه بلله، ځکه چې، د ده په عقيده، دغه جهاد د نړۍ د مسلمانانو تر منځ د اتفاق يو علت وو. د عزام پخوانی شاګرد اسامه بن لادن تر ۱۹۸۴ کال پوري، چې پېښور ته وکوچېدی، د پېښور او سعودي عربستان تر منځ سفرونه کول او هر ځل له ښو ډېرو پيسو سره ستنېدی. عزام هم دغه پيسي، په خورا سخاوت او خلاص لاس، د آی ايس آی باوري کسانو او نيژدې دوستانو حکمتيار او سياف ته ورکولې. حکمتيار د عبدالله عزام په مرسته خپل زوم غيرت بهير د پنځو کلونو لپاره سعودي عربستان ته واستاوه او هغه به هلته تبليغ کاوه چې د افغانستان په جهاد کې تر ټولو ښه مسلمان او ټينګ مجاهد مشر يوازي ګلبدين حکمتيار دی او د هغه لپاره به يې پيسي ټولولې.Ibid, PP 248-249
د ۱۹۸۸ کال د مې په مياشت کې د شوروي قواوو وتل پيل سول او د مصر تروريستانو امين الظواهري او عمر عبدالرحمن له آی ايس آی، بن لادن او حکمتيار سره يو پروګرام تنظيم کړ چې د هغه په اساس يې په ننګرهار، کنړ او پکتيا کې د عربو جنګياليو لپاره د پوځی روزني کمپونه جوړ کړل او جميل الرحمن په کنړ کې د خپل راتلونکي اسلامي امارت لپاره اساس کښېښود. په همدغه وخت کې بن لادن د خارجي جنګياليو په روزنه بناء وکړه او د فيليپين څخه يې د ابوسياف د تروريستي ډلي او له برما څخه د روهينګيا د جدايي غوښتونکو ۱۰۰ تنه د روزني کمپونو ته واستول، چې د حکمتيار او جلال الدين حقاني په قبيلوي اجنسيو کې روزل کېدل. Ibid, P 251


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

د شوروي قواوو له وتلو سره نه یوازې د مجاهدینو د مشرانو او قوماندانانو ترمنځ اختلافاتو زور واخیست بلکه پخپله د عربو ترمنځ هم اختلافات څرګند سول. ځیني عرب د آی ایس آی د نیژدې همکار ګلبدین حکمتیار سره مخالف ول او ځینو یې ملاتړ کاوه. عنعنوي وهابي ملایانو د خپلو وهابي جنګیالیو سره مخالفت کاوه. وهابي علماوو د اخوان المسلمین پر سیاسي اسلام باندې انتقاونه کول. اخوان المسلیمن هم پر دوو ډلو وېشل سوي وه. یوې ډلې چې د توندرو انقلابي حرکاتو ملاتړ یې کاوه د ایمن الظواهري او عمر عبدالرحمن له خوا رهبري کېدل او بله ډله د عبدالله عزام له خوا رهبري کېدل چې د عربي مجاهدینو ترمنځ یې د اتفاق او اتحاد غوښتنه کوله او غوښتل یې د افغانستان د جهاد تر پایه پوري متحد پاته سي. دا اختلافات بالاخره دې سرحد ته ورسېدل چې اکمل الجزایری د« کفارو په مقابل کي مهاجرت» په نوم یوه ډله جوړه کړه او د ټولو هغوعربانو د وژلو حکم یې کاوه چې دوی کافران بلل؛ یعني په حقیقت کي د دوی له عقایدو سره مخالف ول. Ibid, 379
ایمن الظواهري او د هغه زوم عبدالله انس ویل چې عربان باید له افغان مجاهدینو سره ګډ پاته سي او جلا ډلې جوړی نه کړي. ایمن الظواهري او عمر عبدالرحمن د هغه له دې نظر سره مخالف ول. ضمناً عبدالله عزام د ایمن الظواهري له دې نظر سره مخالف وو چې د مصر د رژیم د نسکورولو لپاره یې فعالیت کاوه. هغه د سعودي عربستان د حکومت د جبري نسکورولو سره هم مخالفت کاوه؛ او په دې توګه یې له بن لادن سره، چې د سعودي حکومت یې تکفیراوه، مخالفت منځته راغی. Ibid, 380-81
له افغانستان څخه د شوروي قواوو د وتلو له پیل سره د مجاهدینو د مشرانو او قوماندانانو ترمنځ، خپل منځي، اختلافات او د عربانو ترمنځ داخلي اختلافات داسي سرحد ته ورسېدل چې حل یې د هر چا تر توان وتلی وو. دا وخت په بوسنیا کي د مسلمانانو او عیسویانو ترمنځ جنګونو زور اخیستی وو او عرب مجاهدینو ته د جهاد یو بل نوی میدان پیدا سو. عرب مجاهدینو له پېښور او په افغانستان کي د مجاهدینو له کمپونو څخه د بوسنیا خواته مخه کړه او په ډلو ډلو ووتل. البته په بوسنیا کي یې هغه کارونه وکړل چې د نه کولو وه او د بوسنیا مسلمانو جنګیالیو او قوماندانانو ته یې د ګټي پر ځای تاوانونه ورسول. دا هغه کسان ول چي هم د افغانستان د جهاد له سنګرونو او هم د خپلو هیوادونو څخه مستقیماً د بوسنیا خواته تللي ول. ژورنالیست او لیکوال کهولمن لیکي:
« د بوسنیا د پوځ د عمومي قوماندان مرستیال او د عملیاتو قوماندان ستیفن سایبر د عربو مجاهدینو د عملیاتو په باره کي لوېدیځو مطبوعاتو ته وویل:
دا یوه غلطي وه چي موږ عربو ګیریلایانو ته اجازه ورکړه چي زموږ هیواد ته راسي. دوی ډېر زیات ظلمونه وکړل او کارونه یې د بوسنیا د مسلمانانو په تاوان دي. دوی قتلونه کوي، لوټ او تالان او غلاوي کوي. دوی د بوسنیا د پوځ تر قوماندې لاندې نه دي او باید چي ووزي. موږ امید لرو چي زموږ جمهورییس عزت بېګوویچ به په ځو ورځو کي هغوی ته امر وکړي چي له بوسنیا څخه ووزي» Kohlmann P 90
کهولمن د بوسنیا د مسلمانانو د پوځ د یوه بل قوماندان له قوله لیکي چي دغه خارجیان، د دوی د دښمنانو په څېر، قتل عامونه کوي... دوی لکه لېوني ځانونه هم مرګ ته ورکوي او د بل چا په ژوند کي هم ری نه وهي. دی وایي دا خارجیان زموږ د پوځ پر قومانده باندې غوږ نه نیسي او موږ ته یې دونه تاوان رسولی او دونه یې بدنامه کړي یو چي حد نه لري. دغه قوماندان په یوه بله مرکه کي وویل چي دا کسان له الجزایر، پاکستان، افغانستان او خدازده له کومو کومو ځایونو څخه راغلي دي. دا کسان زموږ په هیڅ درد نه خوري او یوازې زموږ د دښمنانو تبلیغات ریښتیا کوي. دوی فقط د ځان وژلو او جنت ته د تللو لپاره راغلي دي. د بوسنیا خذلک دومره احمق نه دي. موږ غواړو چي د اسلام لپاره ژوند وکړو او د اسلام لپاره مړه سو. Ibid, PP 90-91
عرب مجاهدینو ښایی په افغانستان کي په چور او تالان کي چنداني برخه نه وي اخیستي ځکه چي په دې کار کي زموږ افغان مجاهدین تر هغوی ډېر تکړه ول او په کنړ، کابل، کندهار او د هیواد په کلیوالي سیمو کي د هغوی د جنایاتو کیسي تر اوسه پوري د خلکو په یاد دي. زموږ مجاهدینو نه یوازې، د خپلو وطندارو مسلمانانو، په لوټ او تالان کي تر هر چا زیاته برخه واخیسته بلکه لا یې د ښځو پر بې عزته کولو باندې هم صرفه ونه کړه.
هغو عربانو چي د افغانستان په جهاد کي د برخي اخیستلو لپاره راغلي ول د حکومتي عسکرو او د ټولو هغو کسانو په برخه کي چي د دوی په نظر کافران ول له ډېري بېرحمی څخه کاراخیست. د ۱۹۸۸ کال په ژمي کي د مولوي خالص یوه قوماندان انجنیر محمود د خیبر درې په ختیځ کي ۲۰ تنه تسلیم سوي عسکر پر عربانو باندې، هر یو په ۱۰ زره ډالره خرڅ کړل. عربانو له هغوی ټولو څخه سرونه غوڅ کړل او پر هیڅ چا یې رحم ونه کړ. د سیاف یوه قوماندان، په جلال آباد کي، یو شمېر تسلیم سوي عسکر پر عربانو باندې وپلورل او هغوی تر شکنجه کولو وروسته ووژل. Thomson, P306
د ۱۹۸۸ کال د ژمي په میاشتو کي، چي د امریکا ږغ راډیو سره مي وظیفه درلوده، زه پخپله په پېښور کي وم او د دغو تسلیم سویو عسکرو، چي ځینو رپوتونو او آوازو یې شمېر تر ۷۵ تنو پوري رساوه، په سرنوشت خبر سوم. د پېښې څخه ځو ورځي وروسته زه ، ډاکټر حسن کاکړ، حکیم تڼیوال او یوسف نورستانی هغې سیمې ته ولاړو. د دغو عسکرو مړي مو په داسي حال کي ولیدل چي غوښې یې ځناورو خوړلي او هډوکي یې دې خوا او ها خواته پراته ول؛ او چا یې حتی د ښخولو تکلیف هم نه وو ایستلی. د جهاد په وروستیو کلونو، په تېره بیا د شوروي قواوو له وتلو وروسته داسي پېښې ډېري منځته راغلي دي خو له بده مرغه چي دغه راز ټولي پېښي لیکل سوي نه دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په پېښور کي د عبدالله عزام وظيفه تقريباً ختمه سوې وه او د عرب او افغان مشرانو سره يې اختلافات ورځ په ورځ زياتېدل. که څه هم چي بن لادن له عبدالله عزام سره هغه وخت په ظاهره مخالفت نه ښود خو اکثر پوهېدل چي د هغوی تر منځ هغه پخواني نيژدې اړيکي نسته. له بن لادن سره مخالفت په حقيقت کي د حکمتيار او سياف سره مخالفت وو او له دې دوو مشرانو سره اختلاف له آی ايس آی سره د اختلاف معنا درلوده. ګواکي عبدالله عزام له هري خوا له دښمنانو سره مخامخ سوی وو.
د عزام د بخت ستوری هغه وخت ولوېدی چي د برهان الدين رباني په ملګرتيا يې پنجشېر ته سفر وکړ. رباني بيرته پاکستان ته ستون سو او عزام د ۱۹۸۹ کال د اګست او سپټمبر د مياشتو شپږ هفتې له مسعود سره تيری کړې. عزام په دې موده کي دونه د احمدشاه مسعود تر اغېزې لاندې راغی چي د هغه ثناخوان ورځخه جوړ سو. د هغه په مخ کي يې د يوه عرب شاعر يو شعر ورته ولووست:
غواړم ستا تر ملا تړلي توره مچ کړم
که مي غواړې درته وکړم خدمتونه
غواړم تل دي په چوپړ کي کړم ځان ستړی
پاکوم دي له جنګي موزو ګردونه.
او کله چي له پنجشېر څخه بيرته پاکستان ته ستنېدی نو پخپله يې هم د احمدشاه مسعود د جنګي مېراني په باره کي يو نظم وليکی:

زه زخمي يم زه هدف د غليمانو
له هر لوري پر ما غشي را اورېږي
زما سينه زخمي زخمي په وينو لژند
پر هر ګام مي په نېزو هر کلی کيږي
زه په ژوند له مرګه نه يم وېرېدلی
هغه وېره ده چي زما قرباني کيږي.

عزام پېښور ته له ستنېدلو سره، د احمدشاه مسعود په برخه کي، د عربو مجاهدينو له سخت مخالفت سره مخامخ سو. ډېرو عربانو احمدشاه مسعود د خارجی هيوادونو او کفارو نوکر وباله او ځينو خو ويل چي هغه شيعه دی او خپل مذهب يې پټ کړی دی. په يوه غونډه کي چي عزام، بن لادن او يوه يمني ملا يې رياست کاوه، تقريباً ټولو عربانو د احمدشاه مسعود پر ضد خبري وکړې خو عزام پر خپله خبره ټينګ ولاړ وو او ويل يې چي زه به د خپل ژوند تر وروستی ورځي پوري د احمدشاه مسعود دفاع کوم. له دې مجلس څخه وروسته عزام، پنجشېر ته د خپل سفر په باره کي د « يوه مياشت له قهرمانانو سره» په نوم يو کتاب وليکی او غوښتل يې چي د خپلو خدماتو د مرکز په مطبعه کي يې چاپ کړي.
عزام د ۱۹۸۹ د اکتوبر په مياشت کي سعودي عربستان ته ولاړ او هلته يې د احمدشاه مسعود لپاره د پيسو په غونډولو پيل وکړ او د هغه په ستايلو او دفاع کي يې وېناوي وکړې او چي په سعودي عربستان کي د هغه لپاره څه خراب ذهنيت ايجاد سوی وو د هغه د بدلولو کوښښ يې وکړ.
کله چي عزام پېښور ته ستون سو؛ حکمتيار ورځخه وغوښتل چي د ده دفتر ته ورسي. عزام له خپل کويټی مرستيال ابوطلحه سره ور روان سو. مګر د حکمتيار د دفتر په دراوزه کي يې ابوطلحه ته د داخلېدلو اجازه ورنه کړه او عزام يوازي ورغی. کله چي عزام د حکمتيار له دفتر څخه را ووت نو ابوطلحه وليدل چي د هغه تندی تريو او خواشينی دی. ابوطلحه د مجلس په باره کي پوښتنه ورځخه وکړه او عزام ورته وويل چي حکمتيار تهديد کړم. حکمتيار راته وويل چي که د مسعود په باره کي کتاب چاپ ته وسپارم نو په عوض کي به مرمۍ وخورم. عزام وويل چي د کتاب خپرول دي اوس معطل وي.
عزام د ۱۹۸۹ کال د نومبر پر څلېرويشتمه له خپلو دوو زامنو سره د پېښور د جمرود پر سرک د جمعي لمانځه ته په موټر کي روان وو او ټاکل سوې وه چي عزام د جمعي په لمانځه کي خطبه ووايي. خو کله چي د دوی موټر د جومات دروازې ته ورسېدی د بمب يوه لويه چاودنه وسوه. عزام او دوه زامن، درې واړه ووژل سول. د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ په لسيزو کي په پېښور کي داسي ډېر قتلونه سوي وه. نه پخوا چا پوښتنه او تحقيق کړی وو او نه د عزام د قتلېدلو په پېښه کي چا تحقيق وکړ.
Ibid, 382-385

پاته لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ